# د NYS د ماشومتوب لومړني
# خدمتونو لپاره د کورنۍ لارښود



NEW YORK STATE | Council on Children and Families

# سلام، د ماشومانو او کورنیو په اړه د NYS له شورا څخه

## موږ څوک یو؟

**د ماشومانو او کورنیو په اړه د NYS شورا** (CCF) یوه ایالتي اداره ده چې د نیویارک ماشومانو او کورنیو ته د لوړ کیفیت خدمتونو ته د اسانه لاسرسي برابرولو لپاره د ماشومانو او کورنۍ خدمت وړاندې کولو سیستمونو په همغږي کولو کې مرسته کوي.



CCFد NYS والدینو پورټل **(www.nysparenting.org)** د والدینو په اړه د معلوماتو، د ماشوم پاملرنې اختیارونو، د ماشوم پرمختګ په اړه معلوماتو، د خپل ماشوم له ښوونکو سره د خبرو کولو او ورسره د کار کولو څرنګوالي او نور ډیر څه د خپل ماشوم او کورنۍ ملاتړ لپاره د یو ځمای، ډیجیټل سرچینې په توګه رامنځته کړی! **په پورټل کې لاندې سرچینې وګورئ:**

### هر زده کوونکي حاضر (Every Student Present)

په ښوونځي کې د خپل ماشوم د حاضریدو د ملاتړ د طریقو په اړه او دا چې خپل ماشوم باور څنګه لوړ کړئ، څنګه خپل ماشوم د ښوونځي په کارونو کې وساتئ او خپل ماشوم څنګه د څورونو څخه وژغورئ؛ زده کړه وکړئ.

### د NYS د ماشوم پاملرنې او تر ښوونځي وروسته پاملرنې موندونکی

د ماشوم پاملرنې، تر ښوونځي وروسته پروګرامونو او د والدینو ملاتړ (په کور کې لیدنې) پروګرام په اړه معلومات په یوه اسانه د لاسرسي وړ ځای کې ځای کې ومومئ. متقابلې نقشې اجازه درکوي چې د پاملرنې ډول او د موقعیت پارامترونه غوره کړئ.

### خبرې وکړئ، ولولئ، سندرې ووایئ

د خپل ماشوم د ژبې لومړنۍ تجربې د بدایه کولو لپاره د والدینو او نورو پاملرنه کوونکو لپاره د زده کړې مواد ته لاسرسی ومومئ.

### د مرستې مرکز

د کارن لپاره په یوه دوستانه ویبسایټ کې کټوره روغتیا، زده کړه، بشري خدمتونو او د معلولیت معلوماتو ته لاسرسی ومومئ. د ځوانانو، والدینو، د کورنۍ د غړو او پاملرنه کوونکو لپاره جوړ شوي دي چې د ډیرو ماشومانو او د کورنۍ خدمت کوونکو ادارو او سیستمونو پر ملاتړ تکیه کوي.

### د NYS والدینو لارښود

دا ستاسو لارښود دی، ستاسو د والدینو د سفر د لومړیو پنځو کلونو کیسه. که تاسو مور یا پلار (د زیږون، خپلوني یا د رضاعي پاملرنې له لارې وئ) یاست، نیا یا نیکه، ملګری، د کورنۍ ملګری، د والدینو مسؤلیتونو لرونکی تره یا ترور، د مور یا پلار په توګه ستاسو په رول کې تاسو څه وایئ او کوئ.

**دغه فولډر څنګه وکاروئ:**

**د NYS د ماشومتوب لومړنیو خدمتونو لپاره د کورنۍ لارښود (Family Guide to NYS Early Childhood Services) (همدغه لارښود) یو فولډر او سرچینه ده. یاد فولډر د کورنیو لپاره د سرچینې لارښود دي چې ماشومان په نیویارک ایالت کې د ماشومتوب لومړنیو خدمتونو سره وصل او په اړیکه کې کوي. اوس د فولډر په توګه فارمټ شوي او د مهم اسنادو ذخیره کولو لپاره یو وقف شوي ځای کیدی شي. هیله لرو چې تاسو د کورنۍ په توګه په خپل سفر کې یکې شته معلومات ګټور مومئ. د ماشومانو او کورنۍ خدمتونو په اړه د غوره کړنو او ستراتیژیو په اړه تازه یا باخبره اوسیدو لپاره موږ په FB او Instagram@nysccf کې تعقیب کړئ**






# د NYS خدمتونه او سرچینې



## تر زیږون مخکې تر 5 کلنۍ پورې

**د ماشوم پاملرنه | nysparenting.org یا ocfs.ny.gov**
د ماشوم پاملرنې پروګرامونو او د ماشوم پاملرنې مرستې پروګرام په اړه معلومات وموممئ څو د ماشوم پاملرنې تول لګښتونو یا یوې برخې لپاره تادیه کولو کې مرسته وکړې.

**QUALITYstarsNY (QSNY) | qualitystarsny.org**
QSNY د لومړني پاملرنې او زده کړې پروګرام د 5 ستوري لرونکي درجه بندۍ په پیمانه درجه بندي کوي.

**په کور کې لیدنه | nysparenting.org**
په کور کې لیدونکې د نوي ماشوم تر هرکلي وروسته د ملاتړ له لارې له کورنیو سره مرسته کوي. کورنۍ ملاتړ د خوندي خوب، د مور شیدو ورکولو یا له رواني روغتیایي خدمتونو سره په نښلولو چمتو کیدای شي.

**د سره پیل (Head Start) | bit.ly/headstartprograms**
Head Start او Early Head Start پر شرایطو د برابرو کورنیو لپاره وړیا دي. پروګرامونه د بشپړې ورځې زده کړې، روغتیا، رواني روغتیا، د کورنۍ هوساینې خدمتونو او نور ډیر څه وړاندېز کوي.

**NY Connects | دغه 1.800.342.9871 شمېرې ته زنګ ووهئ.**
د هر عمر لپاره د ملاتړ په اړه نور معلومات زده کړئ.

## شیدې خوړونکي ماشومان تر 3 کلنۍ پورې

**ابتدايي مداخله | bit.ly/earlyinterventionnys**
د معلولیتونو یا ودې ځنډونو لرونکو شیدې خوړونکو ماشومانو او کوچنیانو لپاره ملاتړ. په خدمتونو کې ممکن د وینا درملنه، فزیکي درملنه، د کورنۍ مشورې او نور ډیر څه شامل وي.

## عمر له 3 تر 5 کلنۍ پورې

**د ایالت لخوا تر وړکتون مخکې تمویل شوې دوره**
**bit.ly/earlylearningnys**
پروګرامونه ستاسو په محلي ښوونیزه حوزه یا ستاسو په ټولنه کې د ابتدايي زده کړې وړاندېز کوي.

**تر ښوونځي مخکې دوري ځانګړې زده کړې | bit.ly/specialednys**
د محلي ښوونیزو حوزو له لارې چمتو شوي د معلولیت لرونکو زده کوونکو لپاره خدمتونه.


## پرمختیایي معلولیتونه

**د پرمختیایی معلولیتونو لرونکو خلکو لپاره دفتر**
له خپل محلي Front Door Office سره اړیکه ونیسئ څو اړتیاوې وپیژنئ او ستاسو د ماشوم لپاره د پرمختیایی معلولیت خدمتونو سره وصل شئ.
**1.866.946.9733**

**د NYS له والدینو تر والدینو**
**(Parent to Parent of NYS)**
له پرمختیایي معلولیت لرونکو ماشومانو سره د کورنیو شبکه.
**1.800.305.8817 | parenttoparentnys.org**

**د NYS کورنۍ یوځای**
**(Families Together of NYS)**
د ټولنیزو او احساساتي ننګوونو لرونکو کورنیو او ماشومانو ملاتړ کوي.
**518.432.0333 | ftnys.org**

**eiFamilies**
هغه سازمان چې د داسې ماشومانو لرونکو والدینو مرسته کوي چې د مداخلې لومړني خدمتونه ترلاسه کوي.
**eifamilies.com**



## د کورنۍ ملاتړ

**تادیه شوې کورنۍ رخصتي**
د کار له پلوه خوندي، د نوي ماشوم سره د تړلو لپاره تادیه لرونکې رخصتي، د جدي روغتیایي ستونزې لرونکي عزیز پالنه یا د کورنۍ فشارونو په راکمولو کې مرسته کله چې یو څوک بهر ته فعال نظامي خدمت ته بلل کیږي.
**1.844.337.6303 | bit.ly/paidleavenys**

**د زړو خلکو لپاره د NYS دفتر**
د هر عمر لرونکو خلکو لپاره د خدمتونو او ملاتړ په اړه معلومات او سرچینې ورمومئ.
**1.800.342.9871 | nyconnects.ny.gov**

**د NYS د لنډمهاله او معلولیت مرستې دفتر (OTDA)**
پر شرایطو برابرو کورنیو ته مرستې او ملاتړ چمتو کوي.
**518.402.3096 | otda.ny.gov/programs**

**د کډوالو پروګرام، NYS OTDA لپاره پرمختللې خدمتونه**
د نویو راغلو کډوالو کورنیو لپاره د ژبې روزنې، روغتیایی خدمتونو او په کارموندنه کې د مرستې ترلاسه کولو لپاره وړیا خدمتونه.
**518.402.3096 | bit.ly/rsnys**

**د نویو امریکایانو لپاره دفتر، دNYS د بهرنیو چارو وزارت**
د نوو امریکایانو لپاره وړیا خدمتونه د کاري ځواک پراختیا ته لاسرسی، د ګرځنده انګلیسي ژبې زده کړې او حقوقي خدمتونو کې مرسته کول او د نورو وړیا خدمتونو او ملاتړ په ګډون.
**1.800.566.7636 | bit.ly/onanys**

**د خپلوۍ پاملرنه**
د نیا نیکونو او نورو خپلوانو لپاره حوالي او مرسته چې د ماشومانو پاملرنه کوي.
**1.877.454.6463 | nysnavigator.org**



## خوندیتوب

**خوندي ماشومان نیویارک (SAFE KIDS NY)**
د موټر څوکۍ خوندیتوب لارښوونې او د خوندیتوب ورکشاپونه ومومئ چې ماشومانو ته د ټپي کیدو مخنیوي لپاره وقف شوي.
**516.881.7000 | bit.ly/safekidsnys**

**په نیویارک کې د ماشومانو د ناوړه ګټه اخیستنې مخنیوي**
د والدینو مرستې او سرچینو په ګډون د والدینو مرستې کرښه.
**1.800.224.5373 | preventchildabuseny.org**

## رواني روغتیا

**د NYS د رواني روغتیا دفتر**
د ژور خپګان، د ماشومانو ذهني روغتیا او د ماشومانو او کورنیو لپاره نورو ټولنیزو او احساساتي اړتیاوو ملاتړ.
د ځان وژونې او بحران ژوند ژغورنې لیکې **988** ته زنګ ووهئ
یا ورته متني پیغام واستوئ **bit.ly/mentalhealthnys**

**تر زیږون وروسته سرچینه د نیویارک مرکز**
د میندو، پلرونو او د دوی کورنیو ته تر زیږون وروسته د رواني روغتیا ملاتړ سره پیستون چمتو کوي .
**1.855.631.0001 | postpartumny.org**

**د کاونټي ماشومانو د لاسرسي یوازیني ځای (C-SPOA) همغږي کوونکي.**
د ماشومانو او کورنیو سره د رواني روغتیایي خدمتونو چمتو کوونکو سره په وصل کیدو کې مرسته کوي. خپل د C-SPOA همغږي کوونکی په **clmhd.org/contact_local_mental_ hygiene_departments** ومومئ

## کورنۍ تاوتریخوالی


**د کورني تاوتریخوالي د مخنیوي لپاره د NYS دفتر**
د جنس پر بنسټ د تاوتریخوالي په اړه بیړنی پناهځای یا معلومات ومومئ. په خپله ټولنه کې د کورني تاوتریخوالي له پروګرام سره اړیکه ونیسئ.
**bit.ly/dvhelpnys**

**د NYS د کورني او جنسي تاوتریخوالی مستقیمه ټلیفوني لیکه 1.800.942.6906 :**
متني پیغام **844.997.2121**
خبرې اترې **opdv.ny.gov**
کاڼه یا په اوریدلو کې ستونزه لرونکی کسان **711**

## د روږدیتوب ملاتړ

**د NYS د روږدیتوب دفتر خدمتونه او ملاتړ**
د روږدیتوب مخنیوي، درملنې او بیا رغوونې پروګرامونه ومومئ **FindAddictionTreatment.ny.gov**
**1.877-8-HOPENY**
**(1.877.846.7369)**
**bit.ly/oasasnys**
متني پیغام **HOPENY (467369)**





# روغتیا

**د سالمې ودې کولو مستقیمه ټلیفوني کرښه.**
د مېندواره ښځو او والدینو سره مرسته کوي چې د ماشوم روغتیا، تغذیه او د کورنۍ نورو اړتیاوو په اړه مرسته ومومي. په انګلیسي، هسپانوي او نورو ژبو کې 24 ساعته / ورځ، په اونۍ کې 7 ورځې شته. **1.800.522.5006**


**د غاښونو خدمتونه او سرچینې**
تر زیږون مخکې او د ماشومتوب د خولې روغتیا په اړه سرچینې ومومئ.
**1.855.355.5777 TTY: 1.800.662.1220**
**bit.ly/dentalnys**

**د NYS د روغتیا ریاست د ځانګړي روغتیايي پاملرنې اړتیاوو سره د ماشومانو او ځوانانو (CYSHCN) پروګرام.**
له زیږون تر 21 کلنۍ پورې هغو ماشومانو او ځوانانو او د دوی کورنیو ته د ملاتړ وړاندیز کوي چې ممکن جدي یا اوږدمهاله فزیکي، ذهني یا پرمختیايي معلولیت او/یا د چلند یا احساساتي ناروغي ولري. له **NYSDOH CYSHCN** ټیم سره په **518.474.1961** یا CYSHCN@health.ny.gov اړیکه ونیسئ
د کاونټۍ پروګرام د اړیکې معلومات پکې شته:
**health.ny.gov/community/special_needs/county_programs.htm**

**صحي بیمه**
Medicaid او Child Health Plus (CHP)
د Medicaid یا Child Health Plus (CHP) لپاره د ګډون کولو خرنګوالی زده کړئ. د Medicaid یا CHP مرستې کرښې ته په 1.800.698.4KIDS زنګ ووهئ

**د NY ایالت د روغتیا بازار ځای**
آنلاین سرچینه چې د افرادو سره د ټیټ لګښت یا کیفیته صحي بیمه پلان کې په پرتله کولو او نوملیکنه کې مرسته کوي.
**nystateofhealth.ny.gov**

* د مرستې پروګرامونو، صحي بیمې او د مالي کریډیټ معلوماتو پر شرایطو برابروالی او نوملیکنه په **mybenefits.ny.gov/mybenefits/begin** موندلی شئ



# اساسي اړتیاوې

**سیمه ییزه خوراکي بانکونه**
د خوړو ځایي پلورنځي ومومئ: **bit.ly/foodbanknys**

**SNAP** *(د اضافي تغذیې مرستې پروګرام)* پر شروابطو برابرو کورنیو سره د صحي خوړو پېرودلو کې مرسته.
**bit.ly/snapnys**

**WIC** *(د ښځو، شیدې خورونکو او ماشومانو لپاره د تغذیې ځانګړي اضافي پروګرام)* د مېندوارۍ، د سینې شیدو/ شیدو تغذیه کولو او تر زیږون وروسته ور میرمنو او تر 5 کلنۍ پورې د شیدې خورونکو او ماشومانو پاملرنه کوونکو لپاره د تغذیې زده کړه او مرسته. **bit.ly/wicnys**

**HEAP** *(د کور انرژۍ د مرستې پروګرام)*
د نیویارک پر شرایطو برابرو خلکو لپاره د کور د تودوخې لګښتونو کې مرسته کوي. **bit.ly/heapnys**



**د پناهځای ملاتړ**
د هغو خلکو لپاره ملاتړ چې بې کوره دي یا د بې کوره کېدو په خطر کې دي. د ځایي ټولنیزو خدمتونو له ځانګي سره اړیکه ونیسئ.
**bit.ly/housingnys**

**211nys**
2-1-1 ته د زنګ وهلو له لارې له خدمتونو سره اړیکه ونیسئ یا **211nys.org** ته مراجعه وکړئ.

**د HEARS کورنۍ لیکه (مرسته، ځواکمنتیا، مدافع وکیل، داد او ملاتړ)**
د خوړو، جامو، کور، طبي او رواني روغتیايي پاملرنې خدمتونو په ګډون له خدمتونو سره اړیکه ونیسئ.
**1.888.55HEARS (1.888.554.3277)**

د مرستي پروګرامونو په اړه د
نورو معلوماتو لپاره سکین وکړئ یا
**ccf.ny.gov** ته مراجعه وکړئ

NEW YORK STATE | Council on Children and Families